پرمختیا
اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

هیله بخښونکي خبرونه!

۱۳۱ مه ګڼه • پنجشنبه • د چنګاښ ۵ مه • د ۱۳۹۹ کال

د ۱۷ ولایتونو لپاره د څه باندې ۴۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵۷ پرمختیایي پروژو د هوکړه لیک لاسلیک

۹

په کندهار کې د ولسي ټرون ملي پروګرام له لوري د څه کم ۵۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت پروژې پلي کیږي

۱۰

په هلمند کې د ۴.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو څلور پروژې ګټاخیستنې ته وسپارل شوې

٦

په ننګرهار کې د څه د پاسه د ۳۰۰ میلیونه افغانیو په لګښت د ۲۳ پروژو چارې بشپړې شوي او د ۴۱ پروژو چارې روانې دي

٦

په کاپیسا کې د ۴۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه سړک او یوه پل دجوړیدو چارې پیل شوې

۳

په پکتیکا کې د اوبو لګولو د کاریز د جوړولو کار پیل شو

۳۱ / غبرګولی / ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د پکتیکا ولایت د یوسف خیلو ولسوالۍ په مدرسه کلي کې د اوبو لګولو د کاریز د جوړولو د پروژې کار پیل شو.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې له ملي بودیجې تمویل شوې ۱۸۰۰ کاري ورځې رامنځته او په بشپړیدو به یې د سیمې ۱۰۵۰ تنه اوسیدونکي له دغې پروژې ګټه پورته کړي.

د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې په بشپړیدو به د سیمې ۵۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راشي.

په تیره اونۍ کې یو ښوونځی جوړ او هیواد په ۷ ولایتونو کې د ۱۰ نورو هغو د جوړیدو چارې روانې دي

۵/ چنګاښ/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون اقرا پروګرام تر سیوري لاندې د بلخ ولایت په نهر سراج ولسوالۍ کې یو ښوونځی جوړ شو او د کندهار ولایت په ژیړی، د ننګرهار ولایت په چپرهار، د زابل ولایت په شاه جوی، د بلخ ولایت په دولت اباد ، دفاریاب ولایت په بلچراغ،د پکتیکا ولایت په سروبي ولسوالیواو غزني ولایت په مرکز کې د ۱۰ نورو ښوونځیو دجوړیدو کارونه پای ته نږدې شوي دي.

دا ښوونځي ۱۲، ۱۰، ۸ او یا ٦ ټولګي، تشنابونه، او د څښاک داوبو څاه ګانې لري او په جوړیدو سره به یې ۲۵ زره کاري ورځې را منځته شي.

د جوړ شوي ښوونځي په جوړیدو سره ۳۰۰ زده کوونکیو ته دښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځته شوی او د نویو ښوونځیو په جوړیدو به ۳۵۷۳ زده کوونکي ترې ګټه پورته کړي.

په کندهار کې د ۳،۱۸ کیلو واټه لمریزې بریښنا د تولید شبکې کار روان دی

۱۳۹۹/ غبرګولی/۲۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۳ میلیونه افغانیو په لګښت چې لس سلنه د خلکو ونډه هم پکې شامله ده ، د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ اړوند د حاجي برکت ادوزي پراختیایي شورا له لوري د ۳،۱۸ کیلو واټه لمر یزې بریښنا د شبکې د جوړولو کار روان دې.

په دې شبکه کې ۱۲ تختې ۳۴۰ واټه سولري هینداري او ۲۰۰ امپیره ۱۲ بطرېو پر نصب سربیره ۱۳۲۰ المونیمي تار غځیدلی دی.

د دغه پروژې د جوړیدو په بهیر کې به تخنیکي او غیر تخنیکي کاریګرو ته ۲۲۵ کاري ورځې رامنځته شي. دیادونې وړ ده چې د دې پروژې په بشپړیدو سره به ترې ۲۷ کورنې ګټه پورته کړي.

په کاپیسا کې د۴۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه سړک او یوه پل دجوړیدو چارې پیل شوې

۳۱/غبرګولی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړونې ملي پروګرام له لوري د۴۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د کاپیسا ولایت نجراب ولسوالۍ په ده امیري کلي کې د۶۳ متره کانکریټي اوسپنیز پل او ۱.۴۱ کیلو متره سړک دجوړیدو چارې پیل شوې.

ددې پروژې په بشپړیدو به د نجراب ولسوالۍ ده امیري او رضا خیل دره کلان کلي یو له بل سره وتړل شي او دسیمې داوسیدونکو ډیرې ترانسپورتي ستونزې به هوارې شي.

په فراه کې ۱۰۰ پراختیایی شورا ګانو ته د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹/غبرګولې/۲۹

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري او دعامی روغتیا وزارت د لارښود له مخې د فراه ولایت مرکز کې د خوراکي توکو د کمیټې د جوړیدو او د کرونا وایروس په اړه کمپاین ترسره شو. په دغه کمپاین کې د کرونا وایروس ناروغانو د نښو، له هغې څخه د ځان ساتنې او د وایروس د لیږد د مخنیوي د لارو چارو په برخو کې د روغتیایي اصولو په پام کې نیولو سره لازم پوهاوی ورکړل شو د پراختیایي شورا ګانو غړو ژمنه وکړه چې دا مالومات به د فرسي ولسوالۍ له اوسیدونکو سره شریک کړي. ددې برنامې په ترڅ کې تراوسه د خوراکي توکو د ویش لس کمیټې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د مرستندویه برخې د کار پیل لپاره جوړې شویدي او د نورو کمیټو په جوړیدو کارروان دې.دغه کمیټې د پراختیایي شورا له فرعي کمیټو څخه چې په هغه کې ځوانان ، زیانمنونکې برخه او ملا امامان شامل دي، چې په راتلونکې کې په بیړنیو حالاتو کې له خلکو سره مرسته وکړي.

په بد خشان کې د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت د کرنیزو اوبو یوه زیرمه جوړه شوه

۱۳۹۹/چنګاښ/ ۱

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت د کرنیزو اوبو یوه زیرمه بشپړه او ګټې اخیستنې ته سپارل شویده دغه زیرمه د ۳۴۲ متره مکعبه اوبو د ظرفیت په لرلو سره د بدخشان ولایت د یاوان ولسوالۍ اړوند د سرنګ کلي د پراختیایي شورا له خوا جوړه شوې چې ۲۴ کورنۍ ترینه ګټه اخلي. د نوموړې پروژې دجوړیدو په بهیر کې ۱۴۸۲ ماهرو اوغیر ماهرو کاریګرو ته کاري ورځې رامنځته شویدي. په پام کې ده چې دا زیرمه ۱۵۰ جریبه خړوبه کړي.

په بغلان کې د ۳.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې د جوړولو کار پای ته ورسید

۲/ چنګاښ/ ۱۳۹۹

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو ملي پروګرام له لوري د یونیسف اداري په مالي او تخنیکي ملاتړ دبغلان ولایت د مرکز پلخمري په حسین خیلو کلي کې د ۳.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې د جوړولو کار بشپړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو.

دا شبکه ۹۰ متره ژوره څاه، ۸۰ مترمکعبه د اوبو زیرمه، ۳.۳ کیلو متره پایپ او ۲۰۵ نلکې لري او په جوړیدو سره یې۴٦۰ کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموند.

په پکتیکا کې د اوبو لګولو د کاریز د جوړولو کار پیل شو

۲ / چنګاښ / ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په پکتیکا ولایت کې د اوبو لګولو د کاریز د جوړولو د پروژې کار پیل شو.

د دغې پروژې په ترڅ کې د یاد ولایت د یوسف خیلو ولسوالي په ملا لمبت نوي کلي کې د اوبو لګولو کاریز په پاخه ډول جوړیږي.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې له ملي بودیجې تمویل شوې ۹۹۲ کاري ورځې رامنځته او په بشپړیدو به یې د سیمې ۵٦۰ اوسیدونکي له دغې پروژې ګټه پورته کړي.

د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې په بشپړیدو به د سیمې ۲۵۰ جریبه کرهنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راشي.

په پنجشیر کې د۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د۱.۱۴ کیلو متره سړک د جوړیدو کار روان دی

۲/ چنګاښ/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دسیمه یزو پروګرامونو دهمغږۍ د دفتر له لوري دپنجشیر ولایت درخې ولسوالۍ په قابضان کلي کې د څه باندې ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د۱.۱۴ کیلو متره سړک د جوړیدو کار روان دی.

تر اوسه ددې سړک په اوږدو کې ۱۱ پلچکونه جوړ شوي دي او په بشپړیدو سره به یې د سیمې داوسیدونکو ډیرې ترانسپورتي ستونزې هوارې شي.

په کندهار کې د څښاک د پاکو اوبو د ۲ شبکو د جوړیدو کار روان دې

۱۳۹۹/ چنګاښ /۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري د کندهار ولایت په پنجوایي ولسوالۍ کې د څښاک د پاکواوبو دوه شبکې جوړېږي . دغه شبکې د ۳۰ زره لېتره اوبو ظرفیت لري چې د پنجوایي ولسوالۍ د عبد الروف پراختیایي شورا لخوا یې کار روان دی چې په جوړېدو سره به یې ۸۹٦ تنه ځایي اوسېدونکي د څښاک د پاکو اوبو څخه برخمن شي.

ددغو پروژو د جوړېدو په ترڅ کې به تخنیکي او غیر تخنیکي کارکوونکیو لپاره ۱۱٦۵ کاري ورځې رامنځته شي. د یادونې وړ ده چې د یادو پروژو د جوړیدو کار ۵۰ سلنه پرمختللی دی.

په کندهار کې داوبو لګولو یو کانال بشپړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو

۱۳۹۹/چنګاښ/ ۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري د کندهار ولایت په پنجوایي ولسوالۍ کې د نایب خیلو پراختیایي شورا لخوا د اوبو لګونې ترڅنګ د بندونو (حقابو) جوړولو پروژه په بریالیتوب سره بشپړه شوه. د نوموړي پروژې په بشپړیدو سره د نوموړي کلي د اوبو د ویش ستونزه حل شوه او د دوی د اوبو د ضایعاتو مخه ونیول شوه. د دې پروژې لپاره ۱ میلیون او ۷۹۳ زره افغانۍ لګول شویدې چې ۱۵۶ کورنۍ ترینه ګټه اخلي، د نوموړي کانال اوږدوالي ۱۸۲۰ متره دی او د حقابو شمیر ۱۹ دی چې د کلیوالو ۱۴۵ جریبه ځمکه خړوبوي. د یادونې وړ ده چې د پروژې د جوړیدو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۶۳۹ کاري ورځې رامنځته شویدي.

په هرات کې د ۱۷ پراختیایي شورا ګانو غړو ته د کرونا ویروس په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹/غبرګولی/ ۳۱

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري او دعامی روغتیا وزارت د لارښود له مخې د هرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ ۱۷ پراختیایي شورا ګانو ته د کرونا وایروس او د خوراکي توکو د کمیټې د جوړیدو په اړه کمپاین ترسره شو.

په دغه کمپاین کې د کرونا وایروس ناروغانو د نښو ، له هغې څخه د ځان ساتنې او د وایروس د لېږد د مخنیوي د لارو چارو او د روغتیایي اصولو په پام کې نیولو په اړه لازم پوهاوی ورکړل شو، د پراختیایي شورا ګانو غړو ژمنه وکړه چې دا مالومات به له ځایي اوسیدونکو سره شریک کړي.

پدې کمپاین کې همدارنګه د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د مرستندویه برخې د پیل لپاره د موادو ویش کمیته هم جوړه شوه نوموړې کمیته د پراختیایي شورا له فرعي کمیټو څخه چې په هغه کې ځوانان، ملا امامان او زیانمنونکې برخه شامل دي ، جوړه شوه چې په راتلونکې کې په بیړنیو حالاتو کې له خلکو سره مرسته وکړي .

په نیمروز کې د ۴ څاګانو د کیندنې کار بشپړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې

۱۳۹۹/ چنګاښ/ ۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملی پروګرام له لوري د نیمروز ولایت په چهار برجک ولسوالۍ کې د څښاک د پاکوابو ۴ څاه ګانی د ۳۵۱۷۰۰ افغانیو په ارزښت کیندل شویدي.

پدغه پروژه کې ۱۰ سلنه د خلکو ونډه هم شامله ده . نوموړې څاه ګانې د چهار برجک ولسوالۍ د ګوندکچ کلي پراختیایي شورا لپاره په پام کې نیول شوې چې په جوړیدو سره یې ۲۳۲ تنه ځایي اوسیدونکو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې دي او د نوموړي پروژې د جوړیدو په ترڅ کې د تخنیکي او غیر تخنیکي کارکوونکو لپاره ۳۱۶ کاري ورځې رامنځته شوې.

په هِلمند کې د ۴.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو څلور پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

۴/ چنګاښ /۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظالصحې د پروګرام له لوري د هِلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ په حاجي ګل او وکیل سخي‌داد او د نهرسراج ولسوالۍ په سیدآباد او حاجي نذیر کلیو کې د (۴میلیونه او ۳۸۴زره او ۷۸۰) افغانیو په لګښت ، چې د یواس‌ایډ/یونیسف اداري لخوا ورکړل شوي، د څښلو د اوبو څلور پروژې بشپړې او د خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

په دغو پروژو کې د څلورو ژورو څاه‌ګانو کیندل، د څلورو زیرمو او احاطو جوړول، د اوبو رسونې د لمریز سیستم نصبول او د ۱۶ نل‌کو نصبول شامل وو.

ددغې پروژې په ترڅ کې د ځایي خلکو لپاره ۲۳۰۰ کاري ورځې رامنځته شوې او په بشپړیدو سره یې د شاوخوا ۲۵۰۰ خلکو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې.

په ننګرهار کې د څه د پاسه د۳۰۰ میلونه افغانیو په لګښت د ۲۳ پروژو چارې بشپړې شوې او د ۴۱ پروژو چارې روانې دي

۴ – چنګاښ- ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسی تړون پروګرام له لارې د ننګرهار ولایت په کوز کونړ ولسوالۍ کې د اوبورسولو، کانکریټي سړکونو، کاریزونو ، ښوونځیو او د ۴۱ پروژو چارې روانې دي چې پکې څه د پاسه ۳ کیلومتره د خرم کلی کانکریټي سړک، د ۳۳۲ متره د سلام پور استنادي دیوال ، خلکو ته د څښاک اوبو رسولو ۴ شبکې، ۳۰۰ د څښاک اوبو څاګانې ، ۱۷ ښوونځیو لپاره د ودانیو جوړیدل د سیدودوې او سورچ کلیو کاریزونه او یوشمیر نورې پروژې شاملې دی چې په بشپړیدو سره به یې په بیلابیلو برخو کې زرګونو کورنیو ته اسانتیاوې برابرې شي . دغه راز په یاده ولسوالۍ کې د او بو رسولو د شبکو ، څښاک اوبو څاګانو، کانکریټي سړکونو ، بولډروال او د ولسی تړون پروګرام د پروژو په ګډون ۲۳ پروژې بشپړې شوې دي .

سزبیره پر دې په یاده ولسوالۍ کې د کلیوالي صنعتونود پیاوړتیا ملي پروګرام له لوری د میرمنو ظرفیت لوړونې او اقتصادي وړتیا د لوړولو په موخه د سپما ۳۳۷ واړه ګروپونه چې ۲۹۲ یې د ښځینه وو او ۱۴ نارینه دي جوړشوي چې کلیوال او کلیوالې میرمنې د کوچنیو کاربارونو د ترسره کولو وړتیا پیداکړي.

همدا راز په یاده ولسوالۍ کې د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست ترچتر لاندې د خوړو د نړیوال پروګرام له لوري ۱۵۰۰ کورنیو ته دوه ځلې خوراکي مواد ویشل شوي او د کرونا ناروغۍ په اړه د برک همکارې موسسې له لوري ۹۳ شوراګانو ته د کرونا ناروغۍ په اړه عامه پوهاوی ترسره شوی دی.

په فراه کې د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه جوړه شوه

۱۳۹۹/چنګاښ/۳

د کلیو بیارغونې اوپراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام په وسیله د فراه ولایت مرکز اړوند په همت آباد کلي کې د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه جوړه او ګټې اخستنې ته وسپارل شوه. په دغه پروژه کې د ۲۰ زره لیټره اوبو د ظرفیت په لرلو سره داوبو یوه زیرمه، یوه ژوره څاه، د اوبو سولري پمپ او احاطوي د یوال شامل دي چې ۳۰۰ کلیوالي کورنیو ته یې د څښاک پاکو اوبو ته د لاسرسي زمینه برابره کړې ده.

په غزني کې ۲۸ پراختیایي شورا ګانو ته د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹/چنګاښ/۳

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري او دعامی روغتیا وزارت د لارښوود له مخې په غزني ولایت کې د خوراکي توکو د کمیټې د جوړیدو او د کرونا ویروس په اړه کمپاین ترسره شو. په دغه کمپاین کې د کرونا ویروس ناروغانو د نښو، له هغې څخه د ځان ساتنې او د وایروس د لیږد د مخنیوي د لارو چارو اود روغتیایي اصولو په پام کې نیولو په برخوکې لازم پوهاوی ورکړل شو.

د پراختیایي شورا ګانو غړو ژمنه وکړه چې دا مالومات به د خپلو کلیو په کچه له خلکو سره شریک کړي. ددې پروګرام په ترڅ کې تراوسه د خوراکي توکو د ویش ۱۰ کمیټې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د مرستندویه برخې د کارد پیل لپاره جوړې شویدي او د نورو کمیټو په جوړیدو کار روان دې. دغه کمیټې د پراختیایي شورا له فرعي کمیټو څخه چې په هغې کې ځوانان، زیانمنونکې برخه اوملا امامان شامل دي، جوړه شویده چې په راتلونکې کې په بیړنیو حالاتو کې له خلکو سره مرسته وکړي.

په بادغیس کې له ۵۰ اړو کورنیو سره د څه باندی ۲۰۰ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۱۳۹۹/ چنګاښ/ ۴

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د بادغیس ولایت د مقر ولسوالۍ اړوند تاجک ها، دو آبي اولاماني د پراختیایي شورا ګانو لخوا له ۵۰ اړو کورنیو سره د ۲۰۰ زره ا فغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرستې وشوې. دغه مرستې د ولسي ترون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو وندې هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوې. پدې مرستو کې هرې کورنۍ ته اوړه، غوړي اووریجې وویشل شوې.

په پنجشیر کې د ۲.۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د غځونې کار پیل شو

۴/ چنګاښ/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام کاسا یو زربرنامې تر سیوري لاندې د پنجشیر ولایت د عنابې ولسوالۍ په ملکان کلي کې د ۲.۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د غځونې کار پیل شو.

دا شبکه کې ۳۱۵ کیلو ولته یو ترانسفرمر، ۱.۳۷۲ کیلومتره مزی او ۹ متره لوړې ۳۶ ستنې لري او په جوړیدو به ۲۴۳ کورنۍ بریښنا تر لاسه کړي.

په تخار کې له ۱۹۸ کورنیو سره د۴۷٦زره افغانیو په ارزښت خوراکي او غیر خوراکي مرستې وشوې

۴/ چنګاښ/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دولسي ترون ملي پروګرام دغلو دانو دبانکونو له لوري د تخار ولایت د مرکز اړوند په مسجد تقوا زرګري بالا، شاه بای ګلیدي، ګاو مالي، بابه خان پهلوان، یوسف علي،مسجد اعظم سنګتراش اوامام ابو داود تالقان کې له ۱۹۸ اړو کورنیو سره د۴۷٦زره افغانیو په ارزښت خوراکي او غیر خوراکي مرستې وشوې.

دا مرستې چې اوړه، غوړي، وریجې، بوره، چای، صابون او نور مواد په کې وو،د ټولنیز ګډون لپاره دمالي وجهي پروګرام (SIG) اوکلوالو له اړخه وړاندې شوې.

په ارزګان کې ۱۸ پراختیایي شوراګانو ته د کرونا ویروس په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹/چنګاښ/ ۴

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري او دعامې روغتیا وزارت د لارښود له مخې د ارزګان ولایت مرکز ترینکوټ کې ۱۸ پراختیایي شوراګانو ته د کرونا ویروس او د خوراکي توکو د کمیټې دجوړیدو په اړه کمپاین ترسره شو. په دغه کمپاین کې د کرونا ویروس ناروغانو د نښو ، له هغې څخه د ځان ساتنې او د وایروس د لېږد د مخنیوي د لارو چارو او د روغتیایي اصولو په په برخو کې لازم پوهاوی ورکړل شو د پراختیایي شورا ګانو غړو ژمنه وکړه چې دا مالومات به د ترینکوټ له اوسیدونکو سره شریک کړي. پدی کمپاین کې همدارنګه د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د مرستندویه برخی د پیل لپاره د موادو ویش کمیته هم جوړه شوه نوموړې کمیته د پراختیایي شورا له فرعي کمیټو څخه چې په هغه کې ځوانان، ملا امامان او زیانمنونکي شامل دي ، جوړه شوه چې په راتلونکې کې په بیړنیو حالاتو کې له خلکو سره مرسته وکړي.

په زابل کې د یوه محافظوي دیوال په جوړیدو سره ۲۵ جریبه کرنیزه ځمکه د سیلاوونو له ګواښ نه ژغورل کیږي

۱۳۹۹/چنګا ښ/ ۳

د کلیو بیارغونې او پرختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري د زابل ولایت د ترنک او جلدک ولسوالۍ اړوند د بریم پراختیایي شورا لخوا د یوه محافظوي دیوال په جوړیدو سره شاوخوا ۲۵جریبه کرنیزه ځمکه اوبنونه د سیلاوونو له ګواښ نه ژغورل کیږي.

دغه محافظوي دیوال ۲۲۰ متره اوږدوالی لري چې د پروژې د کار په بهیر کې به فني اوغیر فني کاریګرو ته ۱۳۹۲ کاري ورځې رامنځته شي.

د۱۷ ولایتونو لپاره د څه باندې۴۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵۷ پرمختیایي پروژو د هوکړه لیک لاسلیک

۳/ چنګاښ/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي د سه شنبې په ورځ (۳ چنګاښ) له اړوندو پرمختیایي شوراګانو سره د څه باندې ۴۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵۷ پر مختیایي پروژ و هوکړه لیک لاسلیک کړ.ښاغلي کریمي په هغه غونډه کې چې په همدې موخه جوړه شوې وه وویل:

دا پروژې به د هیواد په ۱۷ ولایتونو کې چې بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، کابل،غزنی، کندهار، خوست، کونړ، کندز، لوګر، پکتیا،پنجشیر،پروان، سرپل، سمنګان او تخار دي پلې او ۱۰۲ زره کاري ورځې به را منځته کړي.

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر په وینا په دې پروژو کې ۸ داوبو لګولو کانالونه،۱۷ محافظوي دیوالونه،۱۱ ګبیون ډوله دیوالونه،د دویمې درجې دیو سرک جوړول،د ۵ کاریزونو جوړول،د پلونو او پلچکونو ۴ پروژې د یوه استنادي دیوال جوړول، د کانکریټي سرکونو دجوړولو ۴ پروژې، دسولري پمپ یوه پروژه، د بولډروالونو ۴ پروژې او د اوبو دیوې زیرمې جوړول شامل دي، چې د هیواد ۱۳۲ زره کلیوال به ترې ګټه پورته کړي.

ددې پروژو له ډلې ۴۲ پروژې له ملي بودیجې ، ۱۴ نورې یې د نړیوال پرمختیایي صندوق او یوه یې د هندوستان هیواد له لوري تمویل شوي دي.

د یادولو وړ ده چې یادې پروژې به د کلیو بیارغونې اوپراختیا وزارت د سیمه یزو پروګرامونو دهمغږۍ د دفتر تر سیوري لاندې تنظیم او د پرمختیایي شوراګانو له لوري تطبیق شي.

په کابل کې د یوې پراختیایي شورا غړیوته د کرونا ویروس په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹/چنګاښ/ ۴

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري او دعامې روغتیا وزارت د لارښود له مخې د کابل ولایت د بګرامیو په ولسوالی کې د صدراعظم پراختیایي شورا ته د کرونا ویروس او د خوراکي توکو د کمیټې دجوړیدو په اړه کمپاین ترسره شو. په دغه کمپاین کې د کرونا ویروس ناروغانو د نښو ، له هغې څخه د ځان ساتنې او د وایروس د لېږد د مخنیوي د لارو چارو او د روغتیایي اصولو په برخو کې لازم پوهاوی ورکړل شو د پراختیایي شورا ګانو غړو ژمنه وکړه چې دا مالومات به د بګرامیو ولسوالۍ له اوسیدونکو سره شریک کړي. پدې کمپاین کې همدارنګه د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د مرستندویه برخې د پیل لپاره د موادو ویش کمیټه هم جوړه شوه نوموړې کمیټه د پراختیایي شورا له فرعي کمیټو څخه چې په هغه کې ځوانان، ملا امامان او زیانمنونکې برخه شامل دي ، جوړه شوه چې په راتلونکې کې په بیړنیو حالاتو کې له خلکو سره مرسته وکړي.

په کندهار کې د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه کم ۵۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت پروژې پلي کیږي

۱۳۹۹ چنګاښ ۴

نن چهار شنبه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي، د کندهار ولایت له والي ښاغلي حیات الله حیات سره د یاد ولایت د خلکو ستونزو او غوښتنو په اړه ولیدل.

د لیدنې په پیل کې کندهار والي د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر سره د یاد ولایت ستونزې شریکې کړې، چې د ولسي تړون ملي پروګرام نورو ولسوالیو ته غځول، د ارغنداب په سیند له دهله بند څخه نورو ولسوالیو ته د کرنیزو کانالونو جوړول، د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو او څښاک اوبو په موخه د شبکو جوړول او د استنادي دیوالونو جوړولو غوښتنې یې مهمې هغه وې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي وویل، له دهله بند څخه به د کندهار ارغنداب، شاولي کوټ، ډنډ، دامان، ژېړی، میوند او پنجوایي ولسوالیو ته د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو په موخه ۱۳۶ کانالونه جوړ شي، چې زیاته کرنیزه ځمکه به خړوب کړي او د دې ترڅنګ د ولسي تړون ملي پروګرام په لومړني پړاو کې د کندهار په سپین بولدک، پنجوایي او شګه یا تخته پل ولسوالیو کې د څه کم ۵۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۵۰ پروژو چارې روانې دي، چې د یاد پروګرام په نورو پړاونو کې به نورې ولسوالۍ هم تر پوښښ لاندې راوستل شي.

په سرپل کې د ۱.۴ میلیونه افغانیو په ارزښت یو کرنیز کانال جوړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو

۱۳۹۹/ غبرګولی/ ۳۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د سرپل ولایت مرکز په چیلانګم اول و دوم کلي کې د ۱ میلیون او ۴۲۶ زره افغانیو په لګښت یو کرنیز کانال بشپړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو.

دغه کانال ۲۸۲متره اوږدوالی لري چې ۲۱۲ کورنۍ ترینه ګټه اخلي. د یادونې وړده چې د دې پروژې د جوړیدو به بهیر کې تخنیکي او غیر تخنیکي ګاریګرو ته ۹۶۹ کاري ورځې رامنځته شوېدي.